# پښتوکښې د ماشومانوادب ته د خالقداد امید بخښنې

شېرزمان سیماب

**Abstract**

Sayed Khaliq Dad Umeed is a renowned Pashto Drama and fiction writer. His Dramas and Films are most popular among the masses. He is well known for writing in favor of children. His creations in this connection are being broad casted and Telecasted from Radio and Television and Publishing in news papers and Journals.

په ادب چې څومره حق د زړو دے داسې د وړو دے او چې د ادب په ذریعه څومره ترجماني د ځوانانو پکار ده دومره د ماشومانو هم پکار ده او لکه څنګه چې د ادب د لارې د ټولوانسانو د جذباتو او احساساتو ترجماني کېږي داسې ددې ګل غوټو هم ضروري ده ـ بایئد چې لیکوال دي پله پاملرنه وکړي ـ

د دنیا په ډېرو او لسونو او ترقیافته قامونو کښې د ماشومانو د تربیت سره تفریح ته خصوصي توجه ورکولې کېږي په دې چې دا ماشومان د سباواکداران دي سبا د دوئ دے ـ چې ددوئ په ښه توګه رهنمائي او لارښودنه وشي نو په ائنده کښې به د قامي ترقۍ واګې د پوهه او زیر کوخلقوپه لاس کښې ورشي او دا کار بې د تعلیم نه نۀ شي کیدے ـ

> د نن ماشومان د سباځوان او ځوانان د قام متې وي ـ که چرې متې مړې او چیچړې شي نو قام ډوب واخله او شاعر چرې خپل قام تودباد ته نۀ پرېږدي [1]

خودې سره دا خبره هم یاد ساتل دي چې د ماشومانو تربیت په قهر او غصه نه بلکې په نرمه اوپسته لهجه کېږي او ددې د پاره ماشومانو ته د عبرت او سبق د پاره وړې وړې قیصې کول پکاروي خوچې د ماشومانود دلچسپۍ اوخوند اخستو خیال پکښې وساتلے شي ـ

دا زمه وارئ ادب په ډېره ښه اوغوره طریقه ادا کولې شي چې د ماشومانو روزنه، پالنه او تربیت په سوچه اوساهولارو وکړي ـ د نړۍ په ټولو ادبیاتو کښې د ماشومانو د پاره خصوصي

کارکېږي او د هغوئ د دلچسپۍ سره پکښې د تعليم و تربيت لارې چارې هم سمولې شي په ټي وي چينلو باندې کارټون، د سپل سپاټې او د کوئز پروګرامونه او داسې د جادو او جاسوسۍ ډارمې وغېره ټول د ماشومانو د پاره تخليق کېږي ـ

زمونږ په فولکلوري ادب کښې د ماشومانو د ادب درنه پنګه موجود ده د پښتنو د هرې سيمې او علاقې د ماشومانو خپلې قيصې،لطيفې، سندرې او صوتونه مشهور دي کوم چې د تفريح سره د ماشومانو په ذهني وده، پختګۍ، تعليم و تربيت کښې پوره پوره معاون ثابتېږي اګرچې په کوم وخت کښې دې پله څۀ خاص، پاملرنه نۀ ده شوې چې په يو منظم ډول زمونږ د فولکلور دغه برخه دې زمونږ د مستقبل (ماشومانو) د پاره دودې او ذهني ارتقاء سبب وګرځي ـ هرڅو ک که څۀ برخه ئې نازېباده ولې څۀ د تعليم و تربيت اړخونه هم لري ـ بله دا چې په دغه فولکلور کښې چې کوم رنګ او اهنګ محسوسېږي نو د پښتنو ماشومانو د جمالياتي ذوق اندازه ترې کېدې شي ـ په دغه صوتونو او سندرو کښې د مذهب،کلتور،رشته دارۍ،د اهمو موقعو، پېښو او تفريح مضامين شامل دي ـ پروفېسر محمد نواز طائر ليکي ـ

> په دې صوتو او سندرو کښې هغه هرڅۀ لکه د تجريدي عکسونو په دود ليدے شي ـ کوم چې زمونږ د عام اولسي ژوند سره تړون او تعلق لري [2]

خدايه باران وکړې
وچ کانې لامدۀ کړې[3]

يا دا چې :

الله زارې زارې
خدايه وکړې بارانونه
چې شېبې شي زېړګلونه [4]

يا

جنت ته يو جرنده ده
کُنجي ئې کلمه ده
دوخ ته يو جرنده ده
کُنجي ئې سره لمبه ده[5]

هندو کندو
راشه مسلمان شه
زمونږ په دين ايمان شه
محمد کلمه پړو
ځان مه سېزه په دړو[6]

د رشتو په لړ کښې هم داسې صوتونه شته چې دغه نومونه پکښې ذکر کېږي دې سره به ماشومانو که يو پلو د رشتو نومونه پېژندل نو بل پلؤ به ئې د هغې احترام او تقدس هم په زړهٔ کښې پرېوتو ـ

ګينګړې ګينګړې په چېو مه راځه ګينګړې
په هلکانو کښې مې رور دے شهزاده
په جينکو کښې مې ورنداره ده ښاپېرۍ
وراندار مې خواره شوه داني نهٔ راکوي
منګے به واخلم په ګودر به ژاړم [7]

پروفېسر نوازطائر ليکي:

پښتانهٔ ماشومان لکه د خودرؤ بوټو په څېر په خپل ماحول کښې راټو کېدلي دي اوهمېشه راسې په فطري انداز بالغ شوې او لوئے شوې دي ـ دوئ خپله تربيت ګاه خپله موندې ده ـ او خپل تربيت ئې هم په خپله کړے دے ـ [8]

موصوف بل ځائے ددې فولکلوري ادب د قدامت په لړ کښې ليکي چې:ـ

زمونږ د ماشومتيا دا ورثه ډېره قديمي اولرغوني ده ـ دومره لرغنۍ ده چې بېدپائے حکيم لاچرې پيدا هم نهٔ وو۔ او د هوښيار او دانا بزرجمهير د کليله و دمنه د اصلي مصنف شهزدګانو لا دا دنيا نهٔ وه ليدلې چې پښتنو ماشومانو ته به دغه شان صوتونه، سندرې او وړې وړې خوږې قيصې کولې شوې او نن لا هغه شان د بي بي کلانې، سرې ګوډې بيزې، ټونګرې ټامې،بي بي بانګي ملو، انګک بنګک، پوندانې ، ګمبور راجه، د سکروټې او پوکنۍ،د ګيدړ او بيزې، د نېکي او بدي، د نيم کوني رور او داسې نورې بې شماره قيصې په پښتو نخوا کښې هر چرته سره د خپلو صوتونو، نعرو اوساندو اورېدې شي ـ خدائے خبر چې دا ټول صوتونه، سندرې او قيصې به د کله راسې د پښتو د شفاهي او فولکلوري ادب دائمي حصه ګرځېدلې وي ـ[9]

زمونږ د ماشومانو په دغه سندرو او صوتونو کښې د اهنګ، مينې، جذبې او شعور په لړکښې حضرت زبېر زبېر ليکي:

> زمونږ پښتنو وړو ماشومانو چې کوم قسم شاعري کړې ده ـ د هغې د ښکلا او ښائست نۀ انکار نۀ شي کېدے ـ چې په هغې کښې ئې څومره په ښکلي انداز په وړو او تنکو ژبو، د خپلو زړونو د جذبو او احساس څرګندونه کړې ده ـ لکه د بهنده او بوهسې په روانو او ساده ټکوئې دغه کلي والې سندرې تخليق کړې دي ـ که مونږ دې ته د مينې د جذبې او د يو باشعوره قام بې درکه او نايابه ملغلرې نۀ وايونو غټه غلطي به کوؤ۔ [10]

په شلمه صدۍ کښې پښتو ادبيات د جديد دنيا د جديدو علومو سره مخ شو۔ د عربۍ او فارسۍ اثرات د وړاندې نه موجود وو۔ د اردو او انګرېزۍ اغېزې هم سر اووهو او په دغه لار پښتو ادب ته نوي موضوعات او نوې اصناف رادننه شول ـ زمونږ اولسي ادب هم خپل رنګ تر ډېره حده بدل کړو ـ د ازاۍ جنګ او تحريک په حواله چاربيتې، سندرې، لوبې، او نيمکۍ پورې اصنافو خپل مضامين نوې کړل ـ پښتو ټپه هم په دغه رنګ کښې رنګ شوه او داسې د ماشومانو سندرو او صوتونو هم دغه اثر قبول کړو۔

هغه ده لارۍ راغله
ډېره پيرنګۍ راغله
پوخ سړک ئې پرېښودو
تحصيل په مندرسه راغله
سپينه پټاسه راغله[11]

يو ګړنګه دوه ګړنګه غاړه د منګي
ټوپۍ د پيرنګي[12]

او داسې چې به چا د پيرنګي د پاره د مخبرۍ کار کوؤنو هم به ورپسې په لارو کوڅو کښې ماشونو دا صوتونه وئيل ـ

دوه پنډه بوس
مخبر دؤوس[13]

د خدائے رسول د قوله مخالف شوے سی ائ ډې
په اوربه دې سېزي[14]

غرض دا چې دا سندرې او صوتونه د حالات حاضره سره هم خپله حاضري لګوي او په خپل ځان کښې ئې خوندي کوي ـ په نړيوالو او سيمئيزو حالاتو او چاپېرچل نظر ساتي ـ

اے وړې مهاجرې
لاس مه وهه اوربل باندې
لاړه نۀ شې مړه به شې
تود جنګ دے په کابل باندې [15]

دلته دا خبره هم د يادونې وړده چې اوس د نوې دور ماشومانو ته دغه سندرې او صوتونه نۀ دي ياد ـ

عجيب بات يہ ہے کہ يہ ہيں بچوں کے روايتی گيت مگر ميں نے اسے پرانے بچوں اور آج کے بڑوں سے سنا اور لکھا موجودہ دور کے اکثر بچے تقريباً ان سارے گيتوں سے بےخبر ہيں کلچر کی تبديلی نے بچوں سے يہ سب کچھ چھينا نئي تعليم، ٹی وی اور کمپيوٹر نے اسے متبادل صورت ميں پيش کيا۔ غير مری اور خالص تصورات کی جگہ مری اور قابل مشاہدہ تصورات بناديئے ۔ [16]

څنګه چې ذکروشو په شمله صدی کښې په پښتو ادبياتو کښې جدت راغے خودماشومانو ادب پله په باقاعده توګه توجه راؤنۀ ګرځېده ـ د شملې صدی دنيمايی نه هم وروستو چرته د ګوتو په شمېر ليکونکي راښکاره شو ولې دغه ليکونه کۀ منظوم ووکۀ منثور خو په خصوصي توګه باندې بياهم د ماشومانو د پاره نۀ ووتخليق شوي ـ د ردهم او اهنګ او طنزومزاح له خاطره د نصاب يا په نورو ذريعو دماشومانو د پاره وګڼلے شول خودغه اړخ چې لاتراوسه تندغرے محسوسېږي پرې ماموره نۀ شو۔
ولې دا هم ده چې د ماشو مانود ادب تخليق يوګران او مشکل کار دے ـ په دې چې د ماشومانو سره د هغوئ په ژبه کښې دکار خبرې يومثبت سمت ته بوتلل وي ـ او بياچې په منظوم يا منثور ادبي رنګ کښې وي نوريښتيا خبره ده چې ګرانه شي ـ
ډاکټر محمد اعظم اعظم خو ځکه وائي چې :

د شعروادب په مېدان کښې د ماشومانو سره د ماشومانو په ژبه کښې خبرې کول او د هغوئ د ماغوته رسول ډېرګران کاردے ـ[17]

محب الله شوق هم ددې قسم خيالاتو څرګندونه کړې ده چې

د ماشومانو خپل احساسات،خپل نفسيات او خپل تصورات وي ـ او په دې پوهېدل يا ددې باريکۍ ته کوزېدل څه اسانه خبره او وړوکے کارنۀ دے [18]

د نصابي ضرورت دپاره کۀ چرته څۀ ليک نيم شوے دے هغه هم دتندې ماتېدو نۀ دے ـ لکه څنګه چې زمونږد ماشومانو شفاهي ادب هراړ خيز رنګونه او سمئيز خوندونه لري ـ ترنم،پختګي (د ماشومانوترفهمه) اوسادګي لري، بايئد ليکوال دغه معيار مخې ته کېږدي ـ

> په پښتو ادب کښې د ماشومانو د پاره ليکلے ادب د نشت برابر دے ـ وخت په وخت د ماشومانو د تفريح د پاره برابردے ـ وخت په وخت د ماشومانو د تفريح دپاره څه لږ ډېرليکل شوې دي ـ ولې د تعميراو په لوبو کښې په غېرمحسوسه توګه دنصابي کتابونو د يوڅو نظمونو نه علاوه سود هم ته شين دے ـ[19]

ولې لا ئق زاده لا ئق په نصاب کښې د شامل دغه نظمونو په حواله خپله رائې داسې قلمبند کوي ـ

> د کلونو راسې زمونږ د پښتو درسي کتابونه هم دغه نظمونه لري چې سائيکه وفادارهياته دغل بچے ئې ستانيکۀ د بدومله وو اوښه اوښه ډانګه او داسې نور ډېر چې ترنم لري ـ خو د ماشومانوذهن د اصلاح د پاره ټول او مکمل اړخونه نۀ لري نن سبا د اليکټرانک مېډيا په وجه دنيا د يو عالمي کلي يا Global village شکل اختيار کړے دے ـ نن د علم او پوهې سفر ډېر وړاندې تلے دے ـ زمونږ راروان نسل زمونږ نه د يو مثبت او تعميري سوچ غوښتنې کوي ـ [20]

د پوهانو د ذکر شوې بيا نونو نه دا خبره مخې ته راځي چې پښتو ادب کښې د ماشومانو د ادب په لړ کښې کار ډېر لږ دے خومره کار چې په نورو ادبي اصنافو شوے دے ـ دې مېدان کښې د مالګي برابر هم نۀ دے شوے ـ ولې دا خبره هم کېږي چې دايو ګران کار دے د يو ليکوال د پاره خصوصي طور د ماشومانو نفسيات مطالعه کول، ساده، روانه او عام فهمه ژبه راوړل او څرګند خو مقصدي مضامين بيانول ضروري وي او د بائد زمونږ ليکوال وکړي په دې چې د نړويوالې ترقی په زغل کښې دا يو بنيادي کار دے ـ زمونږ ناول، ډرامه، افسانه او منظوم ادبيات به هله اثرلري چې مونږ تربيت يافته قام جوړ کړو۔ ددې بوزغلي په صحيح خطوطو روزنه او خصمانه وکړو۔ نو هله به د مېوې طمع کوؤ۔

په دې وخت کښې که څو داسې ليکوال شته چې دې پله خصوصي پاملرنه کوي نو په هغې کښې يوه نامه د سيدخالقداد اميد ده ـ څوک چې د ډېرې زمانې نه د ټيلي ويژن او رېډيو د لارې د قام د روښانه مستقبل د پاره د ماشومانو ادب تخليق کوي او په دې لړ کښې ئې قيمتي هڅحې کړې دي ـ

ستوري او غنچې د ښاغلي اميد صېب دوه شعري مجموعې دي چې خالص د ماشومانو د پاره ليکلي شوې منظوم اثار دي ـ په ذکر شوې نومونو موصوف د رېډيو او ټيلي ويژن نه

د ماشومانو د پاره طويل پروګرامونه کړې دي ـ او بيا هغه تخليقات ئې په کتابي بڼه کښې ترچاپه رسولې دي ـ محفوظ کړې ئې دي او د راروان وخت د پاره ئې د ماشومانو د ادبياتو په فهرست کښې شامل کړې دي ـ

امید صېب يواځنې سړے ښکاري چې په اول ځل ئې دغې ګران کار ته لاس اچولے دے او ځکه خو پروفېسر ډاکټر اقبال نسيم خټک وائي:

> دا هم لاشکر دے چې بعضې اديبان پکښې د ماشومانو د ادب د اهميت نه خبر دي او هغوئ دغه کار ته کار وئيلے دے ـ په دغه شاعرانو اوليکونکو کښې يو ښکاره نوم د ښاغلي خالقداد اميد هم دے ـ چې په ادبي مېدان کښې مسلسل کارکوي لګيادے ـ[21]

امید صېب د ماشومانو د پاره د تفريح ولې د مقصد نه ډک مضامين راوړې دي ـ ژبه ئې بېخې لکه د ماشومانو استعمال کړې ده ـ لهجه، روزمره او محاوره ئې د ماشومانو پوره پوره ترجماني کوي ـ لوئے او اعلٰی فکر ئې په ساده او روانه پېرايه کښې وړاندې کړې دے ـ کوم چې بېخي د ماشومانو د ذهني سطحې او استعداد مطابق دے ـ غرض دا چې فکر ئې اعلٰی دے ولې اظهار ئې په ادني (لاندې) سطح ساتلے دے ـ په دې چې دغه ددۀ د لوستونکو يا د اورېدونکو (ماشومانو) ضرورت دے ـ او دا ضرورت ئې په پوره کاميابئ سرته رسولے دے ـ هم دا وجه ده چې د پښتو ادب په دې اړخ چې ليکوال ئې يادنشت برابردي او يا چرته د ګوتو په شمېر دي ـ امید صېب تردې دمه يو کامياب ليکوال ثابت شوے دے ـ

د ماشومانو د تربيت د پاره چې کومې خبرې ضروري دي هغه ئې په نظر کښې نيولې دي ـ لکه اخلاقيات، معلومات او د هغوئ د ذهني کچ ترمخه جماليات هم دوئ بيان کړي دي ـ

د خپل چاپېرچل داهمو څيزونو نومونه، د اهمومقاماتو په حقله بنيادي معلومات، د معاشرې د اهمو کردارونو پېژندګلو، په خپل ماحول کښې د موجودو ځنا ورو ذکر، د ايجاداتو تذکره، د مختلفو لوبوپه حقله منظوم ليکونه او داسې نور د تعليم و تربيت مضامين ـ

د لوبو په لړ کښې هاکي او کرکټ په ماشومانو کښې ډېرې مقبولې لوبې دي نو دوئ د ماشومانو د پاره په دې موضوعاتو ليک کړے دے ـ

> هاکي ده ښکلي لوبه دهرچاډېره خوښېږي
> زړه ډېره يادېږي، د اوګورئ هاکي
> يوولس ددې لوبې وي لوبغاړې شئ خبر
> هر چاسره هاکي وي په وردئ ښۀ برابر
> زغلېږي ټول غونډو سکي پسې وي لکه اشر

یوټیم د بل په ټیم لکه د باز راشغله کېږي
زړه ډېره یادېږي، د اوګورئ هاکي[22]

لوبو کښې د ټولو مشهوره ده کرکټ
دې ته وائي بېټ،دغه دے وېکټ
دغه سورغونډوسکرے په دې بېټ باندې وهلے شي
لړه چې غونډوسکرے شي لوبغاړي زغلېدلے شي
دغسې په شمېر کښې ډېرې منډې جوړېدلے شي
دې له د وسیم،جاوېدمیانداد پکار دے مټ
دې ته وائي بېټ،دغه دے وېکټ[23]

د ایجاداتو په لړ کښې هوائي جهاز،پایه،بجلي،داورګاډے وغېره نظمونو کښې ماشومانوته ددغه اهموایجاداتو په اهمیت خبرې کوي او ددې نه ئې هم خبروي چې د سائنس څومره برکت دے او مونږ له هم پکار دي چې د مخکښې تلو هڅحې وکړو ایجادات وکړو پرمختګ وکړو او داسې دا نظمونه د معلوماتو سره د ماشومانو د سوچ د ارتقاسبب جوړېدے شي ـ

دا د هرې سیمې مسافرو یو کاروان دے
دغه د اورګاډے دے چک چک داسې روان دے
ځي په منډه منډه خپل منزل ته به رسېږي
ځائے په ځائے په لاره هرسټیشن باندې ودرېږي
دې ناراستو خلقو ته پوټے نه حصارېږي
نه دے په یخنۍ نه په ګرمۍ کښې پرېشان دے
دغه د اورګاډے چک چک داسې روان دے[24]

په دې بندکښې ماشومانو ته وائي چې د اورګاډے ناراستوخلقو ته نه ایسارېږي او په دغه اخري بند کښې وائي چې

څنګه اخري سټیشن ددې ګاډي منزل دے
دغسې ګلونو ستاسو وړاندې مستقبل دے
دا خبره یادلرئ عمل د لارې مل دے
څوک چې همت وکړي خپل منزل ورته اسان دے
دغه د اورګاډے دے چک چک داسې روان دے [25]

د خپلې ټولنې د اهموکردارونو په اړه خپلو ماشومانو ته د هغوئ پېژندګلو کوي ـ په دغه کردارونو کښې نرس،سپائي،ډرائيور، ډاکټر، فنکار،ګډبه وغېره شامل دي ـ بايد چې زمونږ ماشومان د وړو کوالي نه دا کردارونه وپېژني اوددې په بنياد نورو کردارونو پله هم متوجه شي ـ ډاکټر اقبال نسيم خټک په دې اړه وائي ـ

ماشومان په امروزه ژوند کښې دغه کردار ونه ويني، د دوئ د کار روزګار نه ځان خبروي ـ نو ځکه اميدصېب نه صرف ددغه کردارونو اهميت او ضرورت ماشومانو ته په ګوته کړے دے بلکې د دوئ د کاراهميت ئې هم په ګوته کړے دے ـ [26]

نرس په هسپتال کښې دهر درد زخم ټکور
کړي مينه لکه مور خدمت لکه د خور[27]

نور خوشحالوومه په دې ډېر ډېر خوشحالېږمه زه
يمه فنکار ګلونو، هر ځائے يادېږمه زه [28]

داسې د دوئ ددې خورو موضوعاتو فهرست ډېر طويل دے ـ لکه د تعليم وتربيت په لړکښې رر ملګرو وائي سبقونه،،رر اتفاق،، ررخدمت عېن عبادت دے،، رر اتحاد تنظيم او يقين محکم،، رر د ځان صفائي،، او دسکول په لړکښې ئې مدرسه، استاد، بسته او قلم نظمونه شامل دي ـ

د ژوند په ترقی کښې چې روان راسره سم دے
ګلونو دا قلم دے، ګلونو دا قلم دے
د ژوند په راز ګلونو راته وائي خبرچا کړو
چا بره اسمان کښې سيارو سره اشنا کړو
پوهه چا ګلونو د تهذيب په ارتقا کړو
چا په مخلوقاتو کښې د ټولو سر بالا کړو
لائق چې دصفت دے ډېر بې شانه محترم دے
ګلونو دا قلم دے، ګلونو دا قلم دے [29]

پروفېسر ډاکټر سلمٰی شاهين ليکي چې:

ـــــ په وړمبي نظم کښې ئې ماشومانو ته د قلم اهميت په ګوته کړے دے ـ او دا ئې ورته پکښې ښودلې دي چې د قلم په ذريعه انسان ترقي کولے شي او د قلم سره مينه کښې د ژوند د کاميابئ راز دے ـ [30]

داسې د ځناورو په لړ کښې، د موسمونو په لړ کښې ، د اهمو مقاماتو په لړ کښې هم امید صېب د ماشومانو د پاره معلومات فراهم کړې دي ـ او د هغوئ په تته اومعصومه ژبه کښې ئې ورسره خبرې کړې دي ـ

اوګورئ ګلونو دا ایکسچېنج د ټیلیفون دے
دا ځان له دنیا ده ددې جوړ ځان له قانون دے
ډائل کړه ون سېون که پکار دي څۀ نمبر وي
ون اېټ بیا شکایت دے بې پرواه که اپرېټر وي
بیا ددې نه پس بل ذمه وارسپروائیزروي
دې هرې خبرې نه پوره پوره خبر وي
نوټ به شکایت کړي ستاښه پوهه په مضمون دے
دا ځان له دنیا ده ددې جوړځان له قانون دے[31]

دا نظم د ډېرو بنیادي معلوماتو ذخیره لري چې د ټیلیفون په سلسله کښې ئې ماشومانو ته ورکوي او تردې پورې چې ډېرې اوږدې خبرې پرې مه کوئ چې هسې بل زیات نۀ راځي ـ دا معلومات هم دي تربیت هم دے او کفایت شعاري هم ده ـ او دا د یو پوهه ادیب،لیکوال ذمه واري وي چې امید صېب ئې په ښه شان ترسره کوي ـ
او په ائینده وخت کښې چې د ټیلیفون استعمال معدوم ښکاري او د موبائیل زما نه شوه هم به په دې اړه معلوماتي نظم وي چې ددې سسټم System استعمال به څنګ کېدو ـ
غرض دا چې ښاغلي خالقداد امید د خپل مستقبل ماشومانو د پاره کوم تخلیقات وړاندې کړې دي ـ هغه د خپل قام د ترقی او پرمختګ په بنیاد کښې د دوئ له خوا یو مهم کوشش دے ټوله نړۍ لګیاده د ماشومانو په تعلیم او تربیت په اربونو روپۍ لګوي باید داسې لیکوال رامخکښې شي او په دې کارخېر کښې د خپل قلم نه کارواخلي او دا خپله ذمه واري وګڼي لکه امیدصېب چې وائي :

زۀ ترخپله وسه دماشومانو د اصلاح کوشش کوم اوکړے مې هم دے ولې چې ماشومان زمونږ د معاشرې یوه ډېره اهمه اثاثه ده ـ[32]

ډاکټر اعظم د دوئ د تصنیف ررغنچې،،په حواله لیکي:

ـ ـ ـ ـ ـ ـ د موجوده مجموعي غنچې اهمیت او افادیت په دې هم دے ـ چې د ماشومانو د پاره په مختلفو موضوعاتو لیکلي شوې دا نظمونه زمونږ په شاعرۍ کښې د هغې پوره کولو په لاره یوبختور او سودمن قدم دے ـ کوم چې هم د ماشومانو د پاره مخصوص دے ـ[33]

د ماشومانو د پاره ددې ادبياتو تخليق کول د اميدصېب يو زړۀ پورې او ډېر د داد قابل اقدام دے۔ کوم چې به وخت په وخت ستائيلے کېږي او يادولے کېږي ۔

# حوالي

[١] اباسين يوسفزے، د سباؤن زېرے، مشموله، زرغون زېري، ډاکټرديدار يوسفزے، د پښتونخوا د پوهنې دېره پېښور، ٢٠٠١ء مخ الف ۔

[٢] پروفېسر محمد نواز طائر، د ماشومانوسندرې او صوتونه، پښتو اکېډمي، ١٩٨٨ء،مخ ١٨۔

[٣] حضرت زبېر زبېر، اولسي رنګزار،اولسي ادبي ټولنه مردان، ٢٠٠٣ء، مخ ٣١٤ ۔

[٤] همدغه حواله، مخ ٣١٥ ۔

[٥] همدغه حواله، مخ ٣١٩ ۔

[٦] د ماشومانو سندرې او صوتونه، مخ ٨ ۔

[٧] اولسي رنګزار، مخ ٦٣۔

[٨] د ماشومانو سندري او صوتونه، مخ ٨ ۔

[٩] همدغه حواله، مخ ١٩، ٢٠ ۔

[١٠] اولسي رنګزار، مخ ٣٧

[١١] د ماشومانو سندري او صوتونه، مخ ٦١

[١٢] همدغه حواله، مخ ٦٦ ۔

[١٣] همدغه حواله، مخ ١٣٤۔

[١٤] همدغه حواله، مخ ١٣٥۔

[١٥] همدغه حواله او مخ ۔

[١٦] اولسي رنګزار، مخ ٣٢٩

[١٧] ڈاکٹر پرويز مہجور خويشکی، بچوں کے روايتی گيت، پشتو اکيڈمی، ٢٠٠٨ صہ ٤ ۔

[١٨] ډاکټرمحمد اعظم اعظم، غنچې د خالقداد امید، مشموله غنچي، خالقدادامید، ډائرېکټرېټ اف کلچر خيبرپښتونخوا ۲۰۱۲ء مخ ۱۳ ـ

[١٩] محب الله شوق، لوئے کار دروندعمل، مشموله زرغون زېري، مخ ط

[٢٠] اباسين يوسفزے، زرغون زېرې ،مخ د ـ

[٢١] لائق زاده لائق، زيرې، مشموله زرغون زيرې، مخونه ز، ح

[٢٢] ډاکټر محمد اقبال نسيم خټک، د ښاغلي خالقداد اميد غنچې، مشموله غنچي، مخ ١٦ ـ

[٢٣] غنچې، مخ ٤٥ ـ

[٢٤] همدغه حواله، مخ ٥٨ ـ

[٢٥] همدغه حواله، مخ ٨١ ـ

[٢٦] همدغه حواله ،مخ ٨٢ ـ

[٢٧] همدغه حواله ،مخ ١٦ ـ

[٢٨] همدغه حواله ،مخ ٥٠ ـ

[٢٩] همدغه حواله ،مخ ٤٣ ـ

[٣٠] همدغه حواله ،مخ ٢٩ ـ

[٣١] همدغه حواله ،مخ ١٨ ـ

[٣٢] همدغه حواله، مخ ٩٩ ـ

[٣٣] همدغه حواله ،مخ ٢١ ـ